مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۳/۰۱/۱۷

# رباعيات

بيا به بهار وي جهان به ګل وي
د ار غوان به، باندي يرغل وي
ياران به ناځي نغمي به پاځي
شيخان به نه وي ورک به يې پل وي

*****

خدای چي په قارسي و يوه قام ته
مُلا يې ولاړ سي د سر مقام ته
چړي پاچا سي پاچا ګدا سي
محتسب را سي و انتقام ته

*****

هغه اولس به اخته په وير وي
چي تعليم بند وي مکتب تکفير وي
مغزونه کوچ سي قلم يې وچ سي
مُلا پاچا وي چړي وزير وي

*****

وطن چي ښځو لره زندان سي
چړي حاکم سي پر بنديوان سي
مېنه خالي سي له انسانانو
مُلا را ووزي مرد ميدان سي

*****

مُلا قاضي وي ملا افسر وي
مُلا کوتوال وي مُلا ډاکتر وي
چي په نصيب يې مُلا شاهي وي
د هغه قام به خاوري په سر وي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ